# په پښتو ژبه کې د قاموس لیکنې لنډ تاریخي جاج

# A Brief historical overview of Lexicography in Pashto Language

Prof.Dr. Rafiullah Niazi [1]

## ABSTRACT

*Lexicography is the study of the formation, origin, usage and many other features of words. In Linguistic, it falls in the field of lexicology. This article attempt to define dictionary, its types, its origin and evolution in Pashto Language and how much this field has been studied till now.*

پښتو لنډیز:

قاموسپوهنه په عام ډول د ژبو د لغوي زېرمومسایل څېړي او د علمي تړاو پر بنسټ په توله کې په ژبپوهنه (Linguistic) او په ژبپوهنه کې هم له ویي پوهنې (Lexicology) سره تړاو لري. په دې لیکنه کې پر دې څېړنه شوې، چې قاموس څه ته وایي، کوم ډولونه لري، په پښتو ژبه کې قاموس لیکنه له کله راهیسې پیل شوې او تر دې دمه په دې برخه کې څومره کار شوی دی؟

مهم ټکي: قاموس، ډیکشنري، دایرة المعارف، پښتو ژبه، افغانستان، پښتونخوا

[1] Professor, Afghanistan Sciences Academy, Afghanistan, Kabul, Rafiullah.niazi@asa.gov.af

سریزه

په بېلابېلو څېړنیزو سرچینو کې د (قاموس) بېلابېل لغوي او اصطلاحي تعریفونه او معناوې شوي، د ساري په توګه: سیند، د سیند منځ، د سیند ژوره برخه یا ځای، د سیند تل، د لغاتو زېرمه، د لغاتو مجموعه، د لغاتو کتاب او نور، خو په انګرېزي کې ورته (Vocabulary)، (Dictionary)، په فرانسوي کې ورته (Vocabulaire)، (Dictionair) په جرمني ژبه کې ورته (Wortschatz)، (Woererbuch) وایي. (۱)

په دري یا فارسي کې ورته د (فرهنګ) نوم کارول کېږي، خو د قاموس نوم هم ورته دود دی، په پښتو ژبه کې ورته سیند وایي، خو په پښتو ادبي متونو کې د سیند کلمې تر څنګ ورته د قاموس کلمه هم دود ده او کارول کېږي، لکه پښتو – پښتو تشریحي قاموس، پښتو سیند او نور، خو قاموس له آره د عربي ژبې کلمه ده، ځکه چې په عربي ژبه کې د سیند یا ډیکشنرۍ لپاره د (قاموس) کلمه په لومړي ځل الفیروز ابادي کارولې ده (۲)

الفیروز ابادي د (القاموس المحیط) په نامه یو ستر قاموس ولیکه او دا نوم بیا وروسته د دري او پښتو ژبې ادبي او ژبنیو متونو ته هم رانغوتی دی. د (قاموس) کلمه دوه معناوې لري، چې یوه یې اصلي او بله یې وضعي او اصطلاحي معنا وي.

هغه قاموسونه چې په انګرېزي کې یې (Vocabulary) بولي په عام ډول د یوې ژبې د عمومي لهجو د لغاتو ټولګې ته ویل کېږي او هغه قاموسونه چې د لغاتو معناوې پکې د الفبې په ترتیب سره راغلي وي په انګرېزي کې ورته (Dictionary) وایي.

د قاموس لیکنې (Lexicography) د اصولو پر بنسټ قاموسونه په عمومي ډول په دوو ډولونو وېشل کېږي، ژبني قاموسونه او دایرة المعارف (Encyclopedia). په ژبنیو قاموسونو کې یو ژبي، دوه ژبي او څو ژبي قاموسونه شامل وي، چې په یو ژبي قاموس کې لهجوي، احصایوي، د ادبي اصطلاحاتو، د بهرنیو کلمو، ایتمولوژیکي، تاریخي قاموس او نور، همدارز مسلکي، سیاسي، تخنیکي او د بېلابېلو علومو قاموسونه راتلای شي.

دایرة المعارف (Encyclopedia) هم په دوه ډوله وي، عمومي دایرة المعارف او تخصصي دایرة المعارف. په عمومي دایرة المعارف کې عمومي معلومات او په تخصصي دایرة المعارف کې د یوه ځانګړي تخصصي علم په اړه

موضوعات راځي، له ژبني قاموس سره یې توپیر دا وي، چې: په دې ډول قاموسونو کې لغات نه معنا کېږي او نه تشرېح کېږي، بلکې د کلمو واقعي او عیني محتوا پکې راځي، چې د علومو، تولیداتو، ادبیاتو، سیاست او نور مفاهیم لري. (۳)

د شته معلوماتو پربنسټ د پښتو ژبې لومړنی قاموس چې الماني- پښتو قاموس و، الماني ختیځپوه (Orientalist) ګولډن شټیت (۱۷۴۵-۱۷۸۱م)په الماني ژبه لیکلی چې له پیر محمد کاکړ نه یې د دیګوري او اوسیتي کلمو سره ۲۱۵ پښتو کلمې لیکلې دي، دا آثر لومړی ځل د ګولډن شټیت له مړیني لس کلونه وروسته په ۱۷۹۱م کال کې په پیترزبرګ (لیننګراد) کې چاپ شوی دی. (۴)

خو د پښتو ژبې ډېر پوهان او لیکوالان وایي لومړنی پښتو قاموس چې یوه پښتون لیکلی، هغه د نواب محبت خان د ریاض المحبت اثر د (پښتو- دري) کلمو د لغاتو حصه ده، چې په ۱۲۲۱ق کې یې په هندوستان کې تالیف کړی دی.

د نواب محبت خان د ریاض المحبت په اړه د (پښتو ژبه) قاموسي اثر په مقدمه کې شاغلی سید رسول رسا وایي: تر ۱۲۲۱هـ کال پوري هیڅ چا پښتو ژبه د لغت، سیند یا قوموس په بڼه نه وه راټوله کړې. دا نېکبختي د حافظ رحمت خان روهیلي د زوی نواب محبت خان په برخه وه، چې هغه لومړی ځل د ریاض المحبت په نامه د پښتو ژبې قاموس برابر او دا لرغوني ژبه یې په کتابي بڼه راغونډه کړه، دا لغت د پښتو په فارسي ژبه کې دی. (۵)

په روهي ادب آثر کې راغلي، چې: د نواب حافظ الملک رحمت خان روهیله شهید دوه زامن نواب محبت خان او نواب الله یار خان داسې وګړي وو، چې د پښتو ژبې د قاموس لیکلو په تاریخ کې له تولو مقامي لغات لیکونکو څخه لومړی د ذکر وړ دي. د دوی په لیکلو دوه لغتنامو کې ریاض المحبت، چې نواب محبت خان لیکلی، د ۱۲۲۱هـ سره په سمون کې په ۱۸۰۶م کې لیکل شوی دی. (۶)

په پښتو منتخبات اثر کې برنارډ دورن د محبت خان په اړه وایي: تر تولو ستونزمن کار چې د خپلې اړې موخې د تحقق لپاره مې باید ترسره کړی

وای د ډېکشنرۍ یا لغتنامې برابرول و، چې د هغې بنسټ د محبت خان له لوري ایښودل شوی دی. (۷)

خو په ویې پوهنه نومې اثر کې راغلي: د پښتو سیند لیکنې په برخه کې په عام ډول د نواب محبت خان سیند ریاض المحبت دویم اثر دی، چې د هجري قمري کال په حساب په ۱۲۲۱ او د میلادي کال په حساب په ۱۸۰۶ کې یې لیکلی دی، له دغه اثر څخه مستشرقینو هم ګټه اخیستې ده.(۸)

د عام ډول معنا دا ده چې د خپرېدو د نېټې پر بنسټ د ګولډن شتیت پښتو- الماني سیند د نواب محبت خان له ریاض المحبت څخه مخکې تالیف شوی او خپور شوی، خو د معلوماتو پر بنسټ:ریاض المحبت د ترلاسه شوو آثارو په لړ کې په پښتو کې لومړی مستقل قاموس ګڼل کېږي. د دې کتاب لیکوال نواب محبت خان د حافظ رحمت خان زوی دی، چې د احمدشاه ابدالي د واکمنۍ پر مهال په روهیلکنډ کې حکمران و. (۹)

ریاض المحبت یوه مقدمه او دوه فصلونه لري. نواب محبت خان د ریاض المحبت په مقدمه کې لیکلي: ژباړه: دا اثر دوه څپرکي لري، لومړی څپرکی یې مشتقات او دویم څپرکی یې متفرقات دي. (۱۰)

دا چې دا د پښتو ژبې لومړنی مونډل شوی سیند دی، د ریاض المحبت په مقدمه کې یې په اړه داسې خبره شوې: ژباړه: پخوا د پښتو ژبې داسې سیند نه و لیکل شوی، د دې ژبې د قواعدو د توضیح په برخه کې مې تر وسه هڅه کړې او ددې اثر مصنف محبت خان د حافظ الملک حافظ رحمت خان خان بهادر، چې په قوم افغان بړیځ یادېږي، زوی دی. (۱۱)

درېیم پښتو سیند د نواب الله یار خان عجایب اللغات دی، چې په ۱۲۲۴ق کال یې لیکلی دی، دا کتاب هم د ریاض الحمبت په څېر لا تر ننه نه دی چاپ شوی.

د پورتنیو ذکر شوو ډیکشنري ډوله آثارو له ذکر وروسته د پښتو ژبې د سیند لیکنې پروسه په افغانستان، پښتونخوا، هند او بېلابېلو یوروپې ملکونو کې پخپله پښتنو لیکوالو او ختیځپوهانو پر مخ وړې، چې ورسره په پښتو ژبې کې د سیندونو بېلابېلو ډولونه لیکل شوي دي. د ختیځپوهانو په ډېکشنریو کې له (روسي- پښتو) قاموس پرته چې لیبیدیف او ځینو نورو لیکوالو په ګډه لیکلی او پر۱۹۸۰م کال په مسکو کې خپور شوی، د نورو ټولو ختیځپوهانو د سیندونو مبداء ژبه پښتو نه وه او خپلو وګړو ته یې

د پښتو ژبې د زده کړې سيندونه ليکلي. په دې ليکنه کې فقط په افغانستان او پښتونخوا کې د پښتو سيند ليکنې تاريخي جائزه اخيستل شوې، ځکه چې په دغو ځايونو کې د ډېرو سيندونو يا ډيکشنريانو د ليکلو د بنسټ مبداء ژبه، پښتو وه.

Pukhtunkhwa Journal

پښتو سیند لیکنه په افغانستان کې

د ځینو څېړونکو د څېړنو او د شته اسنادو پر بنسټ په افغانستان کې لومړنی لیکل شوی قاموس:د پښتو مرکې دوه ټوکیز (پښتو- دري، دري- پښتو) قاموس دی، چې مولف یې عبدالرحمن لودین و، نوموړی په ۱۳۰۲ل کال د پښتو مرکې دویم مشر هم و. (۱۲)

د دې سیند په اړه داسې ویل کېږي، چې له چاپ مخکې د معارف له کتابتون څخه ترې تم شو.

له دې روسته ځینې ورې ورې ډیکشنریانې خپرې شوې، چې د سیندونو یا قاموسونو مقام او درجه نه لري، نو ذکر ته یې اړتیا نشته. بل قاموس چې په کابل کې د پښتو مرکې غړو لیکلی (یوازینی پښتو) نومېږي، چې پر ۱۳۰۱ل په کابل کې خپور شوی او عبدالوهاب کامه یې او لاله زمانخان په ګډه لیکلی دی. (۱۳)

ورپسې د محمدګل خان مومند (پښتو سیند) پر ۱۳۱۶ل په کابل کې خپور شوی، دا (پښتو – دري) دوه ژبیز سیند دی، چې شاوخوا اووه زره کلمې لري.

پر ۱۳۱۸کال د استاد عبدالحی حبیبي او لعل محمد کاکړ دري- پښتو سیند (سپېڅلې پښتو) چاپ شوی، بیا د محمدګل نوري (پښتو اصطلاحات او محاورې) پر ۱۳۲۰کال پښتو ټولنې خپور کړی دی. پر ۱۳۳۰ کال پښتو ټولنې د (پښتو قاموس) لومړی او دویم ټوک په ۱۳۳۳ کال خپور شوی،په دې کې پښتو لغات په فارسي ژبه ترجمه شوي دي.

ورپسې د عبدالله افغاني نویس دري-پښتو (افغان قاموس) په درو ټوکوکې چې لومړی ټوک یې پر ۱۳۳۵ل، دویم او دریم ټوک یې پر ۱۳۳۶ کال چاپ شوي دي. پر ۱۳۳۹ل کال پښتو ټولنې د شاه عبدالله بدخشي (د افغانستان د ځینو ژبو او لهجو قاموس) چې په اوو ژبو:پښتو، فارسي، شغني، سنګلیچي، واخي، اشکاشمي او منجي لیکل شوی خپور شوی دی.

پر ۱۳۴۹ل د پوهنې وزارت د تالیف او ترجمې ریاست، (انګلیسي-پښتو قاموس) چاپ کړی، بیا پر ۱۳۵۳ل کال د ډاکټر دولت محمد لودین د (نننی پښتو ژبې احصایوي قاموس) خپور شوی، پر ۱۳۵۴کال پښتو ټولنې انګلیسي- پښتو قاموس چاپ کړی او پر ۱۳۵۷ل کال د پښتو څېړنو بین المللي مرکز (د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس) خپور کړی دی.

په ۱۳۵۸ل کال کې د افغانستان د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو انستیټوټ پښتو-انګلیسي قاموس چاپ کړ او پر ۱۳۵۸ل کال درېیم سیند پښتو – پښتو تشریحي قاموس چاپ شوی دی.

په دې وروستیو کې د افغانستان علومو اکاډمی د پښتو ژبې لهجوي قاموس لیکنه پیل کړې وه، چې په اتو ټوکو کې بشپړه شوه. په دې کې د افغانستان د بېلابېلو سیمو د پښتنو قبیلو د لهجو ځینې کلمې پکې ثبت شوې دي.

په افغانستان کې پر دغو ذکر شوو ډیکشنریو یا سیندونو سربېره ځینې نورې لغتنامې او قاموسونه هم بېلابېلو ادارو خپاره کړي، خو دلته د موضوع د اوږدېدو له وجې ترې تېرېږو.

په افغانستان کې لومړني قاموسونه ډېر د روایتي سیند لیکنې تر تاثیر لاندې ترتیب شوي، خو چې کله په افغانستان کې علمي- اکاډمیکې اداري رامنځته شوې، په ځانګړي توګه پښتو ټولنه او بیا د علومو اکاډمي، نو د سیند لیکنې طریقې او میتودونه (Methodology) هم ورسره علمي او اکاډمیک شول، چې ښه بېلګه يې (پښتو پښتو تشریحي قاموس) یا (پښتو انګلیسي قاموس) او نور دي.

## پښتو قاموس لیکنه په پښتونخوا کې

د شته معلوماتو پربنسټ لومړنی قاموس ډوله اثر چې په پښتونخوا کې لیکل شوی، (اتالیق پښتو) دی. د دغه اثر مولف مولوي محمد اسماعیل دی او پر ۱۸۹۶م کال په پنجاب کې چاپ شوی دی.په دې اثر کې د پښتو ژبې جملې او لغات انګرېزي، فارسي او اردو ژبو ته ترجمه شوي دي.(۱۴)

دویم قاموس ته ورته اثر (خیراللغات) دی او قاضي خیر الله لیکلی دی. دا سیند د اردو ژبې ویونکو وګړو ته د پښتو د زده کولو لپاره لیکل شوی او په ۱۹۰۵م کال کې خپور شوی دی. درېیم سیند د میرزا سید محمد (انګرېزي- پښتو فرهنګ) دی، چې پر ۱۹۰۵میلادي کال په راولپېنډۍکې خپور شوی دی. څلورم قاموس چې په پښتونخوا کې چاپ شوی (لغات افغانی) نومېږي، دا پښتو – اردو ډیکشنري ده چې سید راحت زاخېلي لیکلې ده.

بل پښتو- اردو سیند (ظفراللغات) دی. دا په ۱۹۵۹م کال کې په پېښور کې چاپ شوی دی او پر ۱۹۷۰م کال د اشفاق احمد اردو-پښتو قاموس د (اردو- پښتو لغت)په نامه هم چاپ شوی دی.

په کرونولوژيک ډول ورپسي د پېښور د پښتو اکېډمۍ غړو د (پښتو ژبه) ډيکشنري وليکله او خپره شوه. ددې سيند د ليکني هڅې له ۱۹۶۵م کال نه را رواني وې، خو لومړی او دويم ټوک يې پر ۱۹۷۰م، څلورم ټوک يې پر ۱۹۷۳م، پينځم ټوک يې پر ۱۹۷۳م او شپږم ټوک يې پر ۱۹۷۴م کال چاپ شوی دی، اووم، اتم او نهم ټوکونه يې هم چاپ شوي او وروستی برخه يې د (د پښتو اکېډيمي لغت) په نامه چاپ شوي ده.

په سوېلي پښتونخوا کې د پروفيسرسيال کاکړ (پښتو نومونه) قاموس پر ۱۹۷۴م کال چاپ شوی دی. د سيال کاکړ بل اثر (پښتو مترادفات) نومېږي، چې دا هم پر ۱۹۷۴م کال په کوټه کې چاپ شوی دی. بل سيند د (خوشحال فرهنگ) دی، چې ډاکټر يارمحمد مغموم ليکلی او په ۱۹۸۵م کال کې خپور شوی دی. په دې سيند کې د خوشحال بابا د آثارو د لغاتو او اصطلاحاتو معناوې شوې او تشريح شوي دي په پښتونخوا کې د چاپي قاموسونو په لړ کې بل قاموس د فريد صحرايي او قلندر مومند پښتو لغت درياب دی چې پر ۱۹۹۴م کال چاپ شوی دی.

په پښتونخوا کې د قاموس ليکني بهير دريدلی نه دی، لا هم د څينو ليکوالو او ادارو له لوري په بېلابېلو برخو کې فرهنگونه او قاموسونه ليکل کېږي، خو قاموس ليکنه يوه داسې موضوع ده،چې د هر وخت او حالاتو له غوښتنو سره سمه مله روانه ده او په بېلابېلو برخو کې نوي نوي قاموسونه او سيندونه ليکل کېږي، نو په پښتو ژبه کې هم د قاموس ليکني بهير نه دی دريدلی او د بېلابېلو ادارو او اشخاصو له لوري په بېلابېلو برخو کې نوي قاموسونه ليکل کېږي.

پايله

قاموس له آره د عربي ژبې کلمه ده، چې د لومړي ځل لپاره الفيروز ابادي په خپل اثر (المحيط القاموس) کې کارولې، په پښتو ژبه کې يې سيند بولي او په انگرېزي ژبه کې ورته (Dictionary) وايي. په دې څېړنه کې څرگنده شوه، چې قاموسونه په دوله ډوله دي، ژبني قاموسونه او دايرة المعارفونه (Encyclopedia). همدا راز دا هم روښانه شوه، چې په پښتو ژبه کې لومړنی قاموس ډوله اثر (الماني- پښتو قاموس) الماني ختځيپوه گولډن شتيت ليکلی، چې ۱۷۹۱م کال چاپ شوی، خو څينې پوهان پر دې باور دي چې د نواب محبت خان (رياض المحبت) په پښتو ژبه کې لومړنی ليکل شوی قاموس

دی، چې بیا ورپسې په بېلابېلو ځایونو کې په پښتو ژبه کې قاموسونه لیکل شوي، چې له هغې ډلې په افغانستان کې لومړنی لیکل شوی قاموس د عبدالرحمان لودین (پښتو، دري- دري، پښتو قاموس) دی او په پښتونخوا کې د مولوي محمد اسماعیل (اتالیق پښتو) اثر یوه برخه لومړنی لیکل شوی قاموس ګڼل کېږي، چې پر ۱۸۹۶م کال چاپ شوی او بیا په بېلابېلو وختونو کې د افغانستان او پښتونخوا بېلابېلو پوهانو او علمي ادارو په دې برخه کې د قدر او اهمیت وړ کارونه کړي او دا لړۍ لا روانه ده.

مآخذونه:


1. زرغونه، زېور. "د پښتو قاموسونو یو لنډ فهرست"، وږمه مجله، ۳مه ګڼه ، ۱۳۵۶ل، ۹ مخ.
2. سیدالشاه، پولاد."د ژبپوهنې لنډه تاریخچه"، د زیري کالنی، دافغانستان د علومو اکاډیمي د ژبو او ادبیاتو انستیتوټ، دولتي مطبعه، ۱۳۵۷ل،۵۰۷ مخ.
3. پښتو څېړنې. د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، دوهم توک، ګوندي مطبعه، ۱۳۶۷ل، ۴۶۴ مخ.
4. مجاور احمد،زیار.ویې پوهنه،ژبو او ادبیاتو پوهنځی،دلوړو مسلکي ښوونو مطبعه،کابل،۱۳۶۰کال، ۱ مخ.
5. دولت محمد، لودین. قاموس پوهنه،ختیځ ادبي بهیر- جلالکوټ، ۱۳۹۵ل، ۵۸ مخ.
6. محمد نواز، طائر. روهي ادب، دویم چاپ، پښتو اکېډمي پشاور یونیورسټي، جدون پرنټنګ پریس پشاور، ۲۰۰۵م، ۴۶۳ مخ.
7. برنارډ، ډورن. پښتو منتخبات، دویم چاپ، ژباړن: محمد صدیق روهي، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه-کابل، ۱۳۵۶ کال سریزه ۱۷مخ.

8. زرغونه، زېور.د پښتو قاموسونو يو لنډ فهرست، وږمه مجله، ۲ گڼه ، ۱۳۵۶ل، ۶۱ مخ.

9. پورتنی اثر، ۶۱ مخ.

10. محبت خان. رياض المحبت، سريزه، ناچاپ اثر.

11. پورتنی اثر.

12. زرغونه، زېور."د پښتو قاموسونو يو لنډ فهرست"، ۶۲ مخ.

13. نصرالله، ناصر. د پښتو قاموس ليکنې تاريخچه،ميرويس خپرندوی مرکز- پېښور، ۱۳۹۰ل، ۳۶ مخ.

14. مجاور احمد، زيار، ويي پوهنه، د لوړو او مسلکي تحصيلاتو مطبعه، ۱۳۶۰ل، ۶ مخ.



Pukhtunkhwa Journal